ماشومانو مقدس كتاب

وړاندې کونکے

# يرمياه، د اوښكو واله سړے



لیکونکے: Edward Hughes

خیال: Jonathan Hay
Alastair Paterson

خوښونکے: Mary-Anne S.

ترجمه کونکے: Aim4Faith Ministries

مددګار: Bible for Children
www.M1914.org

©2024 Bible for Children, Inc.
تاسو دا قیصئ نقل کولے شئ یا چاپ کولے شئ خو دا خرڅولے نهٔ شئ.

یرمیاه د یهوداه په بادشاهت
کښې په یو مذهبی کورنۍ
کښې پېدا شوے وو. د هغهٔ
پلار خلقیاه یو امام وو. دا
کورنۍ د عنوت په ښار کښې
اوسېده، چې د یروشلم نه
لرې نهٔ وو. کېدے شی د
یرمیاه مور پلار سوچ کولو
چې هغه به هم یو امام
جوړیږی. خو خدائ یوه بله
منصوبه لرله.





د یرمیاه د پیدایښت په وخت، د
خدایٔ خلقو د خدایٔ د کلام په
مطابق ژوند نهٔ تېرولو. تقریباً
ټول، د بادشاه نه واخله تر
نیک کار کوونکی پورې، ټولو
د دروغژنو معبودانو عبادت
کولو، تر دې چې د خدایٔ په
کور کښې هم.



کله چې یرمیاه
ځوان وو، نو
خدائ ورسره
خبرې وکړې.
خدائ یرمیاه ته
ووئیل، زۀ
تا ستا د پیدایښت
نه مخکښې پېژنم. خدائ یرمیاه ته ووئیل، او ما د هغه وخت
نه اراده کړې وه چې تۀ به زما د پاره خبرې کوې.

په ښکاره خو به د خدایځ بلنې د یرمیاه په زړهٔ کښې یره پېدا کوله، های مالکه خدایه! هغهٔ به داسې وئیل. ګوره زهٔ خو خبرې هم نهٔ شم کولے ځکه چې ماشوم یم. هغه ډېر ماشوم نهٔ وو. د شلو کالو وو. خو یرمیاه نهٔ پوهېدو چې هغه خپل ګېر چاپېره بدکاره خلقو سره د خدایځ په باره کښې خبرې وکړی.



خدایٔ یرمیاه له یقین ورکړو چې داسې مهٔ
وایه چې زهٔ ماشوم یم. ځکه چې زهٔ تا د چا
خواته لیږم نو تهٔ به ځې
او څهٔ چې درته
وایم نو هغه به
وائې. زهٔ به



ستا د خلاصولو
د پاره تا سره یم. بیا خدایٔ
یو خاص کار وکړو. خدایٔ د
یرمیاه خوله مسح کړه.

خدائ یرمیاه له طاقت، زړهٔ ورتیا او پوهه ورکوی. هغه په زړهٔ ورتیا خبرې کوی، خلقو ته دا رایادوی چې خدائ هغوئ سره مینه کوی او د هغوئ مدد کول غواړی. خو څوک هم د هغهٔ خبره نهٔ اوری. تر دې
چې بادشاه هم.



امامان خفه شی او هغهٔ ته وائی چې هغه د خدایٔ په حقله وئیل بس کړی. دا دروغژن نبیان هم وو چې وئیل به ئې چې یرمیاه حقیقت نهٔ بیانوی.



یرمیاه خلقو ته رایادوی چې سل کاله مخکښې، د اسرائیل جنوبی بادشاهۍ خدائ پاک رد کړے وو. د هغوئ دشمنانو اسوریانو پرې فتح موندلې وه او ټول اسرائیلیان ئې یو لرې ځائ ته بوتلل.





اوس د یهوداه خلقو، د جنوبی
بادشاه خلقو خدائ پاک پرېښودے
وو. دشمنانان خو د مخکښې نه د
هغوئ خلاف راوتی وو!
آیا خدائ په خپلو خلقو له
اجازت ورکړی چې په
هغوئ فتح حاصله کړی او
هغوئ هم غلامان کړی؟

خلقو په خپلو بتانو یقین کولو. آیا بتانو هغوئ د دشمنانانو نه
خلاصولے شول څۀ؟ نه! صرف خدائ هغوئ بچ
کولے شول. خلق یرمیاه ته دومره غصه وی چې
د هغۀ د وژلو منصوبه جوړه کړی. خو خدائ
خپل خادم بچ کړی.





آخر، خدائ يو داسې
خبره وکړه چې يرمياه
پرې حيران شو. خدائ
وائی، د دې خلقو د
پاره دعا مۀ کوه. زۀ د
دوئ نۀ آورم چې کله د
مدد د پاره آواز کوی.



یرمیاه بادشاه خبردار کړو
چې هغه به د بابل فوج نه
شکست وخوری. بادشاه
خفه شی، او یرمیاه په قېد
کښې واچوی. تر دې چې
په قېد خانه کښې هم،
یرمیاه، په خدائ یقین ساتی
او د هغۀ تبلیغ کوی.



چې کله هغه د قېد نه آزاد شو
نو يرمياه يو ځل بيا بادشاه او د
هغهٔ خلقو ته تبليغ شروع کړو
چې خدایٔ ته راوګرځئ او په
هغهٔ يقين وساتئ. دا ځل بادشاه
يرمياه د خاورې په
يو ژوره قېدخانه
کښې بند کړی.



خو خدایٔ د بادشاه په زړهٔ کښې کار کولو. هغهٔ په پټه
یرمیاه بچ کړو او تپوس ئې ترې وکړو چې خدایٔ د بادشاه
نه څهٔ غواړی. او جواب ئې دا وو، قېد ته لاړ شه، او
خدایٔ فرمائی
چې تهٔ به
ژوندے ئې.



د بابل فوج ټول يروشلم او يهوداه فتح کړو. هغوئ ديوالونه او ټول کورونه راوغورزول او هر څيز ئې وسوزولو. خدائ ووئيل چې د هغهٔ خلق به اويا کاله په غلامئ کښې وی، او بيا به ئې واپس د خپلې



وعدې په مطابق خپلې زمکې ته راولی.

یرمیاه، د اوښکو واله سړے

دَ خدائ په کلام په مقدس کتاب کښې دا قیصئ

شته دے

یرمیاه

"ستا دَ خبرو تشریح نُور بخښی ـ"
زبور 130:119

# ختم شو

دا قیصۍ مونږ ته زمونږ د حیرانونکی خدایٔ په باره کښې ښودنه کوې چې چا مونږ پیدا کړو او چې څوک غواړی چې هغه مونږ وپیژنو.

خدایٔ پوهیږی چې مونږ ډیر غلط کارونه کړی دی، چې هغې ته هغه ګنا وایې. د ګنا مزدوی مرګ دے خو خدایٔ مونږ سره ډیره مینه کوې نو ځکه هغهٔ خپل یک یو زویٔ راولیږلو چې هغه زمونږ د ګناهونو د خاطره سزه وزغمې او په سولۍ خپل ځان قربان کړې.او بیا عیسی د مړو نه ژوندے شو او آسمان ته لاړو. کهٔ تهٔ په عیسی باندې ایمان راوړې او د هغهٔ نه د خپلو ګناهونو بخښنه غواړې نو هغه به تا ته بخښنه وکړې. هغه تا خواته راځی او ستاسو دننه به استوګنه کوی او تهٔ به هغه سره د همیشه د پاره ژوندے اوسیږی.

کهٔ تهٔ په دې ایمان لرې چې دا رښتیا دی نو خدایٔ ته ووایه.خوږه عیسی زهٔ ایمان لرم چې هم تهٔ خدایٔ یې. تا زما د خاطره پیدا شوې او زما د خاطره مړ شوې او اوس تهٔ د تل د پاره ژوندے یې. زما په ژوند کښې راشه او زما ګناهونه وبخښه، چې زهٔ هم د نن نه ژوندون وموم او د همیشه د پاره تاسره یم. زما مدد وکړه چې زهٔ ستا تابعداری وکړم او ستا زویٔ یا لور جوړه شم. آمین
مقدس کتاب ولولۍ او خدایٔ سره روزانه خبرې وکړۍ، یوحنا۱۲:۳